**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

**يهودي دولت د شتون او ځان د دفاع حق لري!؟ لومړی وزیره، توبه وباسه!**

**(ژباړه)**

د ۲۰۲۴م کال، د نومبر په ۱۴مه، د فلسطین په اړه له CNN سره په مرکه کې، د مالیزیا لومړي وزیر ډاتوک سري انور ابراهیم له یهودي دولت سره د غرب ملاتړ وغنده. په پیل کې یې ځوابونه محتاط وو، خو د CNN خبریال ریچارډ کویسټ په دوو پوښتنو سره د انور دریځ څرګند کړ. په دې پوښتنې چې «ایا تاسو د اسراییلو د شتون حق منئ؟» انور په روښانه توګه ځواب ورکړ: «هو.» بیا چې و پوښتل شو «ایا تاسو د اسراییلو د ځان د دفاع حق منئ؟» هغه ورته وویل: «هو».

دغو څرګندو ځوابونو له هغه راهیسې پراخې لانجې او نیوکې راپورته کړې دي، چې ډېرو د مالیزیا له اوږدمهاله فلسطیني دریځ سره د دغو څرګندونو د مطابقت پوښتنه کړې ده.

د دغو نیوکو په ځواب کې، انور هڅه وکړه چې د خپلو څرګندونو په اړه وضاحت ورکړي: «هغه څه چې باید درک شي، دا دي چې موږ اسراییل د ډیپلوماټیکو اړیکو له مخې نه منو او هغوی ته په مالیزیا کې د سوداګرۍ او رسمي فعالیتونو اجازه نه ورکوو.» نوموړي د پیرو په لیما کې د APEC له سرمشریزې وروسته په یوې خبري غونډه کې زیاته کړه: «د نړیوال سیستم په چوکاټ کې یې، ځینې د ډیيفاکټو (de facto) او ځینې نور بیا د قانوني (de jure) په توګه یادوي. اسراییل د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې د یوه هېواد په توګه شتون لري، خو موږ لا هم رسمي پیژندنه ردوو.» انور همدارنګه پر خپلو منتقدینو تور ولګاوه چې له دې مسلې د خپلو سیاسي ګټو لپاره استفاده کوي او عام خلک غولوي.

لومړی وزیره! په CNN کې ستاسو څرګندونې روښانه وې او د ابهام لپاره یې هېڅ ځای پرېنښود. ستاسو وروستي وضاحت یوازې ستاسو اصلي دریځ لا څرګند کړ. ستاسو هڅه د دې لپاره وه چې خپلې څرګندونې روښانه کړئ، خو دا په حقیقت کې ستاسو اصلي څېره بربنډوي. تاسو په "ډپلوماټیکې پیژندنې" یا "رسمي پیژندنې" باندې په ټینګار سره په غیر مستقیم ډول د یهودي دولت، چې په اسلامي خاوره کې د یوې غیرقانوني او مجرمانه ادارې په توګه جوړ شوی دی، شتون ومانه. که تاسو لږ جرات او الهي حکمونو ته پابندي لرلای، نو تاسو به دواړه وړاندیزونه په قاطع ډول رد کړي وای او دا به مو ښکاره کړې وای چې فلسطین یوازې د اسلامي امت ملکیت دی. تاسو باید صهیونیستان د استعمارګرو، غاصبینو او یرغلګرو په توګه یاد کړي وای، چې باید سمدلاسه له فلسطین څخه ووځي. اسلامي حللاره جهاد دی، خو تاسو یې د بیان توان نه لرئ.

لومړی وزیره! زموږ لپاره د تعجب ځای نه دی چې تاسو د یهودي دولت د شتون حق منئ، ځکه تاسو په حقیقت کې د امریکا د دوو ـ دولتونو حل منئ، هغه حل چې د فلسطین په خاوره کې د یهودي دولت حضور تاییدوي. دا ستاسو دریځ دی چې د لومړي وزیر په توګه مو تل درلود او ان ستاسو د مخکینیو لومړیو وزیرانو دریځ هم و، چې په ښکاره ډول له فلسطین سره خیانت دی. دغه حل غیرقانوني یهودي دولت ته حق ورکوي چې د مسلمانانو په خاوره کې دولت جوړ کړي.

موږ تاسو ته یو بل څه هم وایو، لومړی وزیره! تاسو د CNN لومړنۍ پوښتنې په اړه د توضیحاتو هڅه وکړه، ځکه ښایي تاسو احساس کاوه چې کولای شئ د عامو خلکو په ګټه یې وځرخوئ. خو تاسو د دویمې پوښتنې په اړه هېڅ وضاحت ورنه کړ، هغه چې تاسو پکې د یهودي دولت د ځان د دفاع حق ومانه. که تاسو هڅه وکړئ چې دا پوښتنه روښانه کړئ، نو موږ ډاډه یو چې دا به ستاسو په زیان وي. د مالیزیا لومړی وزیره! موږ له تاسو پوښتنه لرو - کله چې مستعمره خلک د هغوی د ښکېلو لپاره مبارزه کوي، ایا استعمارګر دا حق لري چې له مستعمره خلکو څخه د ځان دفاع وکړي؟ که د فلسطین په اړه ستاسو دریځ همدا وي، نو تاسو باید د هالنډیانو، بریتانویانو، او جاپانیانو لخوا د مالیزیایي خاورې د اشغال حق هم ومنئ او دا هم ومنئ چې هغوی د مالیزیایانو د مقاومت پر وړاندې د ځان د دفاع حق درلود!

لومړی وزیره! ستاسو دریځ د نړۍ د پام وړ دی چې "یهودي دولت د ځان د دفاع حق لري" هغه شعار دی چې امریکا او د هغې متحدین یې لري، د دې لپاره چې وښیي یهود د مسلمانانو د قتلونو او د غزې د ورانۍ په جرم کې بې ګناه دي. ستاسو د دغه دریځ پر بنسټ، که یهودیان د مالیزیا خاوره اشغال کړي او مالیزیایان د خپلې خاورې د ښکېلو لپاره راپورته شي، نو ایا تاسو به ووایئ چې یهودي دولت په مالیزیا کې د ځان د دفاع حق لري؟ لا حول ولا قوة الا بالله.

د مالیزیا لومړی وزیره! ستاسو دریځ د سلطان عبدالحمید الثاني له زړورتیا او پرېکنده ارادې سره ښکاره تضاد لري. کله چې د صهیونیزم بنسټګر، تیوډور هرتزل، د خلافت پورونو د پرې کولو په بدل کې د فلسطین د ځمکې د پیرودلو وړاندیز وکړ، سلطان په کلکه انکار وکړ. هغه نه یوازې یوه خونه، بلکې د ځمکې یوه ټوټه هم یهودانو ته ورنه کړه او په زړورتیا او ښکاره توګه یې وویل: «زه به د فلسطین د ځمکې یوه لوېشت هم ورنه کړم، ځکه دا زما نه، بلکې د اسلامي امت ملکیت دی. زما خلکو د دغې ځمکې لپاره جګړه کړې او دا یې په خپلو وینو خړوبه کړې ده... یهود دې خپل میلیونونه وساتي، ځکه که د خلافت دولت یوه ورځ له منځه ولاړ شي، نو دوی کولای شي فلسطین بې له کومې بیې پرې کولو ترلاسه کړي، خو تر هغه چې زه ژوندی یم، دا به هېڅکله و نه شي.»

د ماليزيا لومړی وزيره! موږ غواړو ټينګار وکړو چې د يهودي دولت شتون، که هغه رسمي وي يا غير رسمي، د اسلامي شريعت له مخې په واضح ډول ناروا (حرام) دی، ځکه چې دا په غصب شوې اسلامي خاوره جوړ شوی دی. هغه د دوو – دولتونو حللاره چې تاسو او امريکا يې ملاتړ کوئ حرامه ده، ځکه چې دا پر هغو خاورو چې له مسلمانانو څخه نيول شوې دي، يهودي دولت د مشروع دولت په توګه پېژني. د فلسطين سپېڅلې خاوره د اسلامي امت ملکيت دی او يوه لوېشت يې هم بايد دښمن ته ونه سپارل شي. يهود کافران دي چې د امت پر وړاندې په جګړه کې دي (حربي کفار دي) او د اسلامي تعليماتو له مخې، د دوی د تېري يوازينی مشروع ځواب جګړه ده. ستاسو د شريعت خلاف ځوابونه په رښتيا د شرم وړ دي، موږ ستاسو لپاره بله مشوره نه لرو، لومړي وزيره، پرته له دې چې توبه وباسئ او د فلسطين لپاره سم اقدام وکړئ. ستاسو دنده او مکلفيت او د نړۍ د نورو مسلمانانو حکامو مکلفيت دا دی چې خپل پوځونه د دغه غير قانوني او جنايتکار دولت د ختمولو لپاره بسيج کړئ، نه دا چې شتون يا د ځان د دفاع حق يې ومنئ او "اوسپنيزه ګنبده" يې شئ.

**عبدالحکيم عثمان**

**د حزب التحرير- ولايه ماليزيا د مطبوعاتي دفتر وياند**

**۱۴۴۶ هـ.ق کال، د جمادي الاول ۱۹مه**

**۲۰۲۴م کال، د نومبر ۲۱مه**

**د صدور ګڼه: ۱۳/ ۱۴۴۶**

**ژباړن: اسرار تکل**